مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند
۲۰۱۹/۰۳/۲۵

# اوښکې

تول عمر د ویر وې، دا د ویر نه دي
اوس د خوشالۍ دي، د تدبیر نه دي

چا وې څوک به وایي مخ یې ونیسه
نیشم درولای، دا د گیر نه دي

چا وې: دا قسمت دی که تمثیل کوې؟
خپله دي راغلې، د تقدیر نه دي

هر څاڅکی یې رون دی او سپیڅلی دی
دا د پښیمانۍ او د تقصیر نه دي

تا کله د غره چینه لیدلې ده؟
خپله وي رڼه، دا کار د ځیر نه دي

اوښکې له تلخونو خپله سر باسي
دغه دوعاگانې د کوم پیر نه دي

هسې د خپل زړه ـ ذهن پرې سود کوم
هیڅ نه او په تمه د سریر نه دي

یو نازک د مینې تار یې بند کاندي
بند وي ډېر په مینه، په ځنځیر نه دي

۲۰۱۹/۰۲/۱۲
هېدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ